دستروا کمن په سترنامه

هلمندد اطلاعاتواوفرهنګ ریاست

# هلمند

اونیزه

۴۳

چهارشنبه


۱۴۴۳هـ ق رجب المرجب ۱مه

۱۴۰۰هـ ل کال دسلواغي ۱۳ مه

دتأسیس کال ۱۳۳۳هـ ل

## د سوځېدلـــي ځنـګل د بیـــا رغولو لـــړۍ روانه ده





نېټه: ۱۴۴۳/۶/۲۸ هـ ق ۱۴۰۰/۱۱/۱۱ هـ ل

د کرني اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د رئیس مولوي سید جلال الدین آغا په ځانګړي هدایت او د طبعي سرچینو د امریت اړوند جنګلاتو مدیریت د مسلکي کارمندانو لخوا د بولان ځنګل په سوځېدلي ساحو کي د نوي نیالګیو ځلورم مخ ....

## لښکرګاه کي د(۱۷۲) سیلاب ځپلو کورنیو سره نغدي او دخوراکي توکو مرسته وسوه








نېټه :۱۴۴۳/۶/۲۷هـ ق ۱۴۰۰/۱۱/۱۰ هـ ل

په لښکرګاه ښار کې د طبیعي پیښنو پر وړاندي د مبارزې ضدحوادث ریاست د( OHA ـ IOM او WFP )موسسو په همکارۍ د ۱۷۲ سیلاب ځپلو کورنیو سره نغدي، خوراکي او ژمني توکو مرسته ترسره کړه .د طبیعي پیښنو ځلورم مخ .....

## د سوځېدلـــــي ځنګل د بیــــا رغولو لــــړۍ روانه ده

د نوي نیالګیو د ایښودلو لپاره د ځمکې د اماده کولو بهیر جریان لري چې ژر به د نوي نیالګیو د کښېنولو لړۍ هم راپیل کړي .
د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست اړوند د طبعي منابعو امریت د فني کارمندانو په وینا چې اوس مهال د ځنګل هغه نیالګي چې د بېلابېلو عواملو له امله سوځېدلي وه له منځه وړي او د نوي نیالګیو لپاره ورته ځمکه اماده کوي چې ژر به د نوي نیالګیو د ایښودلو لړۍ راپیل کړي تر څو ځنګل یو ځل بیا زرغون سي. د هلمند ولایت د کرنې ریاست په پلان کې لري چې د یاد ځنګل د سرسبزۍ لپاره شپېته زره (۶۰۰۰۰) نوي نیالګي کښېنوي.ځنګلونه چې د انسانانو لپاره یوه لویه شتمني ده تر څنګ یې د هوا د پاکوالي او د اکسیجن د تولید ذریعه هم ده نه یوازې دا چې د انسانانو لپاره بلکه د ژوندیو موجوداتو ، مرغانو ، څارویو او وحشي حیواناتو د اوسېدو ځاي هم دی او د هیواد د اقتصاد د ودې یوه مهمه او ضروري سرچینه هم ګڼل کیږي. د هلمند ولایت د کرنې ریاست د ټولو ښاریانو څخه غوښتنه کوي چې د ځنګلونو په ساتنه او پاکوالي کې پوره همکاري وکړي . د یادوني وړ ده چې د بولان په مرکزي قوریه، بولان ځیرنېز فارم او د یاد ځنګل د بیارغولو په پروسه کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالي لګښت او د بشري قواوو د انکشاف اداره (HRDA)مؤسسې له طرفه ۳۰۰ تنه کارګران د میاشتنی معاش په بدل کې په دنده ګمارل سوي.

## اعـــــلان

د لښکرګاه ښاروالی غواړي چې د لښکرګاه ښار اړوند ساحو کې د لوحو او بیلبوردونو د تهجایي محصول د داوطلبی په توګه په اجاره ورکړي . هرڅوک چې یې د اجارې دقرارداد هیله ولري . غوښتن لیکونه دي د اعلان د نشر د نېټې څخه تر ۲۱ ورځو په اوږدو کې دښاروالی داملاکو مدیریت ته وسپاري او خپله دي په ۱۴۰۰/۱۲/۴ هـ ل نېټه د سهار پر ۱۰ بجې د ښاروالي ریاست ته دداوطلبی په مجلس کې د ګډون لپاره حاضر او پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) – افغانی تضمین نقداً اخیستل کیږي . ۱-۱

## سیلاب ځپلو کورنیو سره نغدي کومک وسو

د مبارزې رئیس قاري فیاض د باختر آژانس سره د خبرو پر مهال وویل چې د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې ریاست په هلو ځلو د ځینو موسساتو په همکارۍ او مالي لګښت یې د ۱۷۲ سیلاب ځپلو کورنیو سره نغدي ،خوراکي او غیري خوراکي توکو مرسته ترسره کړه.
د فیاض په خبره چې د (IMO) موسیسې لخوا د نادعلي ،باباجي،ګرشک او مارجې ولسوالیو تر څنګ یې د لښکرګاه ښار اړوند صافیانو، قلعه کهنه او بولان سیمو د (۱۷۲)سیلاب ځپلو او غریبو کورنیو سره د سولرې ، ژمني، اشپزۍ، سرپنا او د کمپلو کیټونو مرسته وکړل او هم یې (۳۲ )کورنیو ته خیمې ، تر پالونه، بخار،چاې بر،ګیلاسونه،بېلابیل ډوله کاسې، قاشوغې،ګاز ډبه،ترپال،سطل او نور توکي شامل وه ورکړل.
د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبازې رئیس د باختر آژانس د خبریال سره د خبرو پر مهال همدا راز زیاته کړه چې د لوږې پر وړاندې د مبارزې مؤسسې لخوا هم د (۱۴۶) کورنیو سره د (۱۴۰۰۰) افغانیو نغدي مرسته وسوه.ښاغلي فیاض زیاته کړه چې د (WFP) موسیسې لخوا هم یادو ۱۷۲کورنیو ته(۲۵ ) کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۴ ډبې غوړي،۲۰ دانې بیسکیټ،۱۱۳ دانې د سوېې تغذیه ماشومانو لپاره پروټیني او تقوي مواد او ۴ بوجې اوړه ورکړل سوه.
د هلمند سیلاب ځپلو کورنیو د یادې مرستې په ورکړه خوښي وښوده او وویل چې په دې سره به یې یوه اندازه ستونزې حل سي خو دوی له ولایتي اداري او اړوند موسساتو د نورو مرستو د ورکړې غوښتنه هم وکړه. د یادوني وړ ده چې یادو موسساتو په بېلابېلو برخو کې په هلمند ولایت کې د بېوزله، غریبو او اړمنو کورنیو سره ورته مرسته کړې دي.

کتن پلاوی :
ګل احمد (فرهاد) اونظرمحمد (کلتور)
دامتیاز خاوند : داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست
مسوول مدیر: سیدمحمد (حیرت)
داړیکي شمېرې :
(۰۷۰۰۹۰۰۵۵٦)
(۰۷٤۷۰۵۹۹۵٦)
Helmandjareda1333@gmail.com
انځورونه: باختر اژانس
چاپ: نشنل چاپخانه:
پته : دلښکرګــــــاه ښار

# سرمقاله:

## داسلام له نظره دښځو حقوق

قدرمنولوستونکو !اسلام داسي يو رښتيني دين دی چي د انسان هراړخيز ژوند يې تضمين کړی او دانساني ژوند د هرې برخي لپاره واضيح احکام او ځانګړي قواعد لري اسلام خپلو پيروانو ته سپارښتنه کوي چي دافراط او تفريط څخه ځان وساتي که په لنډه توګه ووايو په اسلام کي هيڅ ډول تاوتريخوالی، ظلم، زور، بې انصافي او بې عدالتي، ځای نلري او د هر فرد لپاره که هغه نر وي اوکه ښځه يولړ حقوق او وجايب ټاکلي چي بايد مراعت سي مګر بدبختانه ننه ورځ ځيني مسلمان د دې پرځای چي دخپلو حقه حقونوذپيژندلو او ترلاسه کولو لپاره داسلام حقوقي نظام مطالعه کړي دغير اسلامي ټولنو په تبليغاتو باورکوي چي ګواکي رښتيا هم اسلام ښځوته پوره حقوق نه دي ورکړې مګرپه حقيقت کي داسلام مقدس دين ووچي ښځي ته يې بشري ارزښت ورکړ او ښځي يې دخپلو اساسي حقوقو لکه د ژوند کولوحق، دنکاح او مهرحق، دميراث حق، دعزت اوعفت دحقونو څخه برخمني کړي . دپورته ذکرسويو حقوقو په اړه په اسلامي تعلماتوکي په څرګند اومفصل ډول بحث سوی، خوکله کله پرټولنه حاکم ناوړه دودونه او رواجونه پردغه حقوقو خپل کړغېړن سيوری پری باسي او دغه مظلومه طبقه دخپلو حقونوڅخه بې برخي کوي مګرپه وړاندي يې داسلام دخواخوږو رهبرانو مبارزه روانه ده او نه پرېږدي چي په اسلامي ټولنه کي څوک دخپلو حقوقو څخه محروم سي چي ښه بېلګه يې په دا وروستيوکي دافغانستان اسلامي امارت دعاليقدر امرالمؤمنين حفظه الله (۸۳ ج۱) ګڼه فرمان دی چي دښځو دحقوقو په اړه صادرسوی، دغه فرمان دښځو دشپږواساسي حقوقوپه اړه په صراحت سره داسي حکم کوي .

۱- د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضايت ضروري دی چي نکاح له کفو سره وي د فتني او فساد خطر به هم نه وي ، هيڅوک يې په جبر او اکراه پر نکاح کولونه سي مجبورولای.

۲- ښځه مال نه؛ بلکي أصيل انسان دی، هيڅوک يې چا ته د صلحي په بدل(بدو) کي نه شي ورکولای.

۳- د مېړه تر وفات وروسته چي عدت شرعي يې تېر شي، کونده نه لېورځان په زور نکاح کولای سي اونه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل راتلونکي سرنوشت په هکله د خپل اختيار څښتنه ده چي دکفو اصل او د فتني او فساد مخنيوی په نظر کې نيول سوی وي.

۴- د نوي خاوند څخه د مهر اخيستل د کونډې شرعي حق دی.

۵- ښځه د مېړه ، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کي د ميراث حق او ثابت سهم لري، په فرضيت يا عصبيت سره هيڅوک يې د خپل حق څخه نه سي بې برخي کولای.

۶- کوم څوک چي متعدد ودونه لري، مکلف دي چي ټولو ښځو ته د شرعي حکم سره سم حقونه ورکړي اوتر منځ يې عدل وکړی.

پدې هيله چي دمقالي ترلوستلو ورستلو وروروسته محترم لوستونکي دنورو هيوادوالو په خاص ډول خويندو سره هم معلومات شريک کړي.

## هلمند کي ۱۳۰۰ کسانو پاسپورتونه ترلاسه کړي

نېټه: ۱۴۴۳/۶/۲۷ هـ ق ۱۴۰۰/۱۱/۱۰ هـ ل

د هلمند پاسپورټ رياست مسؤلين وايي : په دغه ولايت کي شاوخوا څلو زره کسانو د پاسپورټ اخيستلو لپاره نوم ليکنه کړې، چي له جملې يې ۱۳۰۰ کسانو ته پاسپورټونه رسېدلي او پاته نور يې تر مراحلو لاندي دي. د پاسپورټ رياست د مسؤلينو په وينا دلته اکثره هغه کسان د پاسپورټ د ترلاسه کولو لپاره نوم ليکنه کوي چي د خپلو ناروغانو د تداوۍ يا نورو کارونو لپاره بهرنيو هيوادونو ته د تګ اراده لري. د هلمند ولايت د پاسپورټ رئيس حبيب الرحمان حبيب وايي : نږدې هره ورځ له ۷۰ تر ۸۰ کسانو د پاسپورټ د ترلاسه کولو لپاره نوم ليکنه کوي ، موږ هم په نوبت او پوره نظم د همدې کسانو لپاره قانوني طی مراحل ترسره کوو. همدا راز د پاسپورټ غوښتونکي وايي : ياده پروسه پوره شفافه او رڼه ده ، خو د کارکونکو کمښت له امله د پاسپورټ د ترلاسه کولو لپاره ډېر وخت انتظار باسي.دغه ډول دوی زياتوي که د پاسپورټ رياست اداري کارکونکي زيات سي نو له يوې خوا به د ډېرو کسانو پاسپورټ غوښتنو ته رسيده ګي وسي ، او له بلي خوا به د عوايدو په زياتوالي کي د پام وړ پرمختګ رامنځ ته سي.د يادوني وړده چي هلمند کي د پاسپورټ رياست له تيرو دريو مياشتو راهيسي بيا په کار پيل کړی چي اوس مهال يې کاري بهير له هر ډول تخنيکي ستونزو پرته پر مخ ځي.

# د ۲۵۰ بې وزلو کورنیو سره د خوراکي او غیري خوراکي توکو مرسته وسوه






نېټه: ۱۴۴۳/۶/۲۶ هـ ق ۱۴۰۰/۱۱/۹ هـ ل

دغـه مرسـته د افغـاني سـرې میاشـتې ریاسـت لـه خـوا د هلمنـد ولایت مارجې ولسوالۍ لپاره د فدرېشـن د اداري لـه خـوا سـوې.د افغـاني سرې میاشتې له لوري مـارجې ولسـوالۍ کـي د ۵۰۰ بېوزلـو کورنیـو لپـاره مرسته ځانګړې سـوې ،چـي لـه جملـې یـې تېـره ورځ ۲۵۰ هغـه کورنیـو ته چي زیـاتي بېوزلـه، بې سرپرسـته او دغـه راز و چکـالۍ اوجنـګ ځپلـي وې مرسـته وویشـل سـوه. دهلمنـد ولایـت دسرې میاشـتي رئـیس مولـوي فضـل محمـد فضـلي صـاحب بـاختر آژانـس تـه وویـل: د سـرو میاشـتو او سـره صـلیب د ټولنـو فدارسـیون یـا IFRC د سـرې میاشـتي سـره پـه همکـارې پـه هلمنـد کـي د ۳۰۰۰ جګـړه ځپلـو او غریبـو کورنیـو سـره د خوراکي اوژمنیو توکـو تـر څنـګ د حفـظ الصـحي توکـو مرسـته کـوي، چـي لـه جملـې یـې ۱۵۰۰ کورنیـو تـه پـه مرکـز او د پاتـه ۱۵۰۰ کورنیـو سـره پـه مارجـه ،خانشـین او دېشـو ولسـوالیو کـي د یـادو توکـو مرسـته کوي.

نومـوړی وایـي: پـه یـاده مرسـته کـي هـري کـورنۍ تـه اتـه قلمـه خـوراکي تـوکې ورکـول کېږي، چـي پکـي یـو ژمنـی کیټ او یـو نظـافتي کیټ موجـود دی او پـه خـوراکي توکـو کـي ۵۰ کیلـو اوړه ، ۵.۲۴ کیلـوورجې، ۱۰ لیتـره غـوړي ، بوره،لوبیـا، چـاي، بیسـکویټ،کوټونه، بوټونـه ، د کـالو مینځلـو صـابون، آټولونه او نور ژمني او حفظ الصحي اړین توکي شامل دي.

هغه د منني ترڅنګ زیاته کـــړه، چـي پـه هیـواد بیـا پـه ځانګړي توګـه هلمند کي زیات هیوادوال بې وزلـه او غریـب دي چـي پـه وینـا یـې اړینـو بشـــري مرســـتو تـــه اړتیـــا لـــري او غوښـــتنه یـــې وکـــړه: چـــي ټـول مرسـتندویه اداري دي د روان اقتصـادي نـاورین د مخنیـوي پـه برخه کي د جګړه ځپلـو، بـې ځایـه سـویو او بـې وزلـه کسـانو سـره مرسـت ي وکړي.

دا پـه داسـي حـال کـي ده ،چـي درې اونـۍ وړانـدي هـم د افغـاني سـرې میاشـــتي لـــه خـــوار پـــه باباـــاجي ولســـوالۍ کـــي د ۱۲۰ سېلاب ځپلو کورنیو سره د غیري خوراکي توکو مرسته وکړه.

# د نیالګیو کښېنولو ملي کمپاین په موخه غونډه تر سره سوه



نېټه : ۱۴۴۳/۶/۲۷ هـ ق ۱۴۰۰/۱۱/۱۰ هـ ق

دغه غونـډه د هلمنـد ولایـت د چاپیریـال سـاتني پـه ریاسـت کـي جـوړه سـول ،چـي پکښـي د لښـکرګاه ښـاروالۍ اسـتازو،دیني عالمـانو ،قـومي مشرانو او د ګذر وکیلانو ګډون درلـود. پـر همـدې مهـال د یـاد ریاسـت رئیس سید محمـد عیسـی آغـا بـاختر آژانـس تـه وویـل: اوس د نیـالګیو کښـېنولو موسـم دی ، هـر څـوک دي پـه خپلـو کلیـو او کورونـو کـي نیالګي کښـېنوي او د نیـالګیو ایښـودني پـه ملـي کمپـاین کـي دي برخـه واخلي،تـر څـو د زرغـون او سمسـور چاپیریـال پـه واسـطه د ککـړ چاپیریـال مخنیـوی وسـي. نومـوړی وایـي: ښـار د ټولـو ګـډ کـور دی او ټول ولسـونه مکلـف دي چـي د پـاك چاپیریـال پـه رامنځتـه کولـو کـي په ګډه کار وکړي ،پـه ښـار کـي نیـالګي کښـېنوي او د نیـالګیو روزنـي ساتني او پالني ته دي پاملرنـه وکـړي. د عـامي روغتیـا ریاسـت اسـتازي ډاکتر محمـد صـدیق قـانع د ونـو پـر ارزښـت خبـري وکـړې. زیاتـه یـې کړه، چي نیـالګي د چاپیریـال پـه پـاك سـاتلو کـي مهـم رول لـري د ده په خبره نیالګي د سمسـورتیا تـر څنـګ د ککـړي هـوا مخنـوی کـوي او د روغتیا په ساتلو کي رغنده رول لري.

نومـوړی وایـي: ټـول خلـك مسـؤلیت لـري چـي پـه خپلـو ټولنـو او جوماتونو کـي خلکـو تـه د نیـالګیو ارزښـت پـه اړه پوهـاوی ورکـړي او د دې تـر څنـګ هغـوی تـه سپارښـتني وکـړي چـي پـه خپلـو کورنو،حمامونو او نانوایـانو کـي غیـري معیـاري سـون توکـو د سـوځولو څخه ډډه وکړي ځکه غیري معیـاري سـون تـوکي د ککـړي هـوا سـبب ګرځي چي له امله یي انسانان په ګڼو ناروغیو مبتلا کیږي.

دغه راز د ګـذر وکیلانـو او د غونـډې نـورو برخوالـو هـم د نیـالګیو پـر ارزښـت هـر اړخیـزي خبـري وکـړې او زیاتـه یـې کـړه چـي دوی بـه خلکو تـه پـه دې برخـه کـي بشپړ عامـه پوهـاوی ورکـړي چـي نیـالګي کښـېنوي او د هغـوی سـاتني او پـاملرني تـه توجـو وکـړي. دا پـه داسـي حال کي ده چي تېـره ورځ د زراعـت ریاسـت لـه لـوري د ۱۰۰۰۰ مېـوه لرونکو او غیري مېوه لرونکو نیالګیو د توزیع لړۍ هم پیل سول.